## د څو ژبو لپاره د يي اف اف يونټ

- د دولتي او آزادو ښوونځيو لپاره لار ښوونه
- د مورنۍ ژبه تدريس په ابتدايي، متوسط، ليسه، مخکينی ښوونځی او ځانګړو ښوونځيو کي
- درسي مرسته په مورنۍ ژبه
- د پيژند ني يا لومړنی ملا تړ په مورنۍ ژبه
- د دندي پلان جوړول په مورنۍ ژبه
- د مورنۍ ژبي په مضمون يا د مورنۍ ژبي په کورس کي آزموينه


**Enheten för flerspråkighet**
flersprakighet@uppsala.se
018-727 20 26
Uppsala kommun


# د مورنۍ ژبه تدريس




flersprakighet.uppsala.se

Uppsala kommun

## په دې ډول د مورنۍ ژبه تدریس تنظیمېږي

په اپسالا کې د مورنۍ ژبه تدریس د ټاکل شوی تدریسي وخت نه وروسته تر سره کېږي. په دې توګه درسونه د مکتب د وخت څخه وروسته شروع کېږیږي
د ف ـ ۵ ټولګي زده کونکي په خپل مکتب کې مورنۍ ژبه لری ، اما ۹-۶ ټولګي زده کونکي په یو ټاکل شوی وخت ماسپښین یا ما ښام په ګدو ګروپونو کي را ټولېږي، که زده کونکي د بس ټکټ و نه لري نو بیا ښوونکي به د بس ټکټ ورکړي

### نور معلومات

په اپسالا کې د یی اف په ویب پاڼه کولی شئ چې د مورنۍ ژبې د تدریس په اړه نور معلومات هم تر لاسه کړئ.

flersprakighet.uppsala.se

## په اپسالا کې دڅو ژبو یونټ یې اف د مورنۍ ژبه تدریس تنظیموي

### بنسټیز پوهه

د اقلیتونو ژبې نه پرته نور د تولو ژبو لباره بنسټیز پوهه اړینه ده. ښوونکی د تدریس د پیل سره سم د زده کونکی بنسټیز او لومړنۍ پوهه ارزوي. د اوریدلوفهم او شفایی وړرتیا دواړه ارزول کېږي.

معلومات د بنسټیز پو هه په اړه د یی اف په ویب

پاڼه کې پیدا کولی شئ

### په دې ډول درخواست کولی شئ

دا د زده کوني سر پرست دي چې درخواست کوي.

فورمې په ښوونځی او همدارنکه د یی اف په ویب پاڼه شتون لری. فورمه ډکه کړئ او بیا یی لاسلیک کړئ او د زده کونکي ښوونځي ته وسپارئ. مدیر باید دغه غوښتنلیک تصویب کړي او بیا ښوونځی په وروستي وخت کې د راتلونکي تعلیمي کال لپاره تر جون ۱۵پوري یې اف ته واستوي.

هغه غوښتنلیکونه چې د جون له ۱۵وروسته راځي ځای ورته نه تضمینېږي.

### څوک کولی شي مورنۍ ژبه ولولي؟

*(یادونه! دا په ملي اقلیتونو پورې اړه نلري)*

هغه زده کونکی چې سر پرست یی له سویدني پرته یوه بله مورنۍ ژبه ولري نو هغه ته باید په مورنۍ ژبه د تدریس امکانات برابرسي که:
1. ژبه د زده کونکی په کور کې د ورځنی اړیکوژبه وی
2. زده کونکی باید د ژبې بنسټیز او اساسی پوهه ولري او په ژبه خبري وکړي اوپوهه شي، تدریس په مورنۍ ژبه یو ملي پلان تعقیبوي.

### د ملی اقلیتونو ژبې

سویدن لاندې اقلیتي ژبې لري:
فنلندي، مانکیلي، سامي، روماني او ید ش.
د دې لپاره چې د ملي اقلیتونو ژبې ته د لوستلو اجازه ورکړل شي تاسو باید د دغه اقلیتي قومه سره تړاوولری. نو بیا زده کونکی دې ته اړتیا نلري چې په کورکي په دغه ژبه خبري وکړي او یا دژبې لومړنۍ یا بنسټیز پوهه ولري.
دلته دوه کورسونه شتون لري او په غوشتنلیک کې تاسی انتخابوی چې زده کونکی خپل مورنۍ ژبه د ویونکي په توکه زده کوي او یا د پیل کونکي په توګه.